# د تجربو پر بنسټ متخصصین: د غزاله او ندال لومړۍ شپږ میاشتې

**په بریتانیا کې د غزاله او نیدال د بیا میشتیدنې لومړیو 6 میاشتو په اړه ولولئ.**

کورنۍ له کلونو راهیسې د بیا میشتیدنې په تمه دي. نو تاسی خپله پوهیږی چی کله غزاله اونیدال ته وویل شول چی تاسی بریتانیا ته د بیا میشتیدنی په موخه ځی نو دوی باور نه کول! هغوی وس مونږ ته خپل وخت راکړ تر څو مونږ ته خپل د ژوند لومړنی ۶ میاشتی تجربی په بریتانیا کی شریکی کړی. د ونو له کینولو د ډالیو تر لاسته راوړلو او په کرسمس کی د کارتونو ته لاسه کول او چی څه ډول له خپل تحصیلی اسنادو کټه پورته کړی، دا هغه تجارب دی چی نیدال او غزال مونږ سره شریک کړی.

## بریتانیا ته د راتګ په اړه مو څنګه احساس وکړ؟

**غزاله:** زه په ریښتیا سره خوشحاله شوم چی بریتانیا ته راغلم، هغه هیواد چی ما او زما کورنی یی خپله غیږ پرانیستله. موږ دلته د خپلو لوڼو (لورانو) د راتلونکي لپاره راغلي یو، او په دې پوهیدو چې زموږ لوڼی (لورانی) به دلته فرصتونه ولري او دا هغه څه دي چې موږیی ډیر خوشحاله کړی یو. زموږ د الوتنې ورځ له مختلفو احساساتو ډکه وه. مونږ له دی چی بریتانیا ته مو سفر کول ډیر خوشحاله وه، مګر په لبنان کې د ملګرو پریښودلو غمجن کړو. او مونږ د اندیښنې احساس کاوه ځکه چې مونږ نه پوهیدو چې واقعیا څه به پیښیږي. زه فکر کوم چې موږ ټول، لویانو او ماشومانو عین احساس کول، موږ ټولو دا احساس کاوه.

کله چې مونږ ته په لومړي ځل وویل شول چې مونږ د بیا میشتیدنې لپاره منل شوي یو، مونږ باور نه شوای کولی - مونږ فکر کاوه چې دوی له مونږ سره ټوکې کوي! ما ورته وویل: ریښتیا وایه، ته څوک یې او ولې زنګونه وهی؟ دوی وویل چې موږ ربښتیا وایو. حتی کله چې د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ (UNHCR) له ما څخه وغوښتل چې له دوی سره ووینم، نو په ناسته کې ما فکر کاوه، "ایا دا واقعا پیښیږی؟" دا ماته ریښتیني نه بریښي، نو ما شک وکړ چې دوی څه وایی - ځکه ما پدې خبرو باور نه شو کولی مګر په پای کې هر څه همداسی پیښ شول! دوهم زنګ چې مونږ ترلاسه کړ کله چې دوی مونږ ته وویل چې مونږ به په بریتانیا کې میشت کیږو، او دا هغه وخت دی چې زه په بشپړ ډول خوشحاله وم ځکه چې زه پوهیدم چې زما لوڼې کولی شي په انګلستان کې واقعیا ښه ژوند ولري، په ځانګړې توګه ځکه چې دوی به ښه تعلیم ولري. مونږ پوهیږو چې ډیری خلک غواړي بریتانیا ته په ځانګړي ډول د زده کړې لپاره راشي، نو زه لیواله وم چې زما لوڼې به دا چانس ترلاسه کړي.

نیدال په هغه وخت کې په کار کې و چې ما سره اړیکه ونیولی شوه، ما هغه ته زنګ وواهه ترڅو ورته ووایم چې موږ په بریتاینا کې د بیا میشتیدنې لپاره منل شوي یو. هغه د دې خبر په اورېدو لا ډېر خوشاله شو! او کله چې مې دا خبر له نورو سره شریک کړ، هغوی هم ډېر خوشحاله شول.

**نیدال:** کله چې غزاله ما ته زنګ وواهه چې خبر راکړئ، په لومړي سر کې مې باور نه کیده - فکر مې کاوه چې له ما سره یې ټوکې کولې! مګرکله چې موږ په دې اړه بحث وکړ، نو زه پوهه شوم چې دا ریښتیا ده. په نهایت کې ، زه وتوانیدم خپل ځان قانع کړم چې دا ریښتیا ده او ما د خوښۍ احساس وکړ.

## لبنان کی ژوند څه ډول وه؟

**غزاله:** لبنان یو داسې هیواد دی چې مونږ یې منلي وه او موږ شاوخوا اوه یا اته کاله هلته ژوند وکړ او د هغه څه یی ستاینه کوو چې هغه هیواد زمونږ لپاره وکړل. کله چې موږ هلته ژوند کاوه، موږ په ټولنه کې مدغم شوو او هلته مو ملګري پیدا کړل. مګر زموږ د ژوند کیفیت ښه نه و، ځکه چې بیرته له سره پیل کول ځای ندی. مونږ په ځانګړي ډول د خپلو ماشومانو د زده کړې په اړه ډیرې اندیښنې درلودې ځکه چې دوی نشي کولی په ښوونځیو کې د دوی لپاره ټولو سرچینو ته لاسرسی پیدا کړی، نو موږ داسې احساس نه کاوه چې دوی ښه تعلیم ته لاس رسی لري. له همدې امله ما وویل چې موږ ډیر

RESET
Training and Support

خوشحاله یو کله چې مونږ ته وویل شول چې بریتانیا ته راځي، ځکه چې مونږ د خپلو لونو لپاره د شته فرصتونو په اړه ډیر فکر کاوه.

په لبنان کې د کار موندل ستونزمن وو. زه د کار په لټه کې وم، مګر ما د خپل ځان لپاره مناسب څه ونه موندل. زه په سوریه کې د حلب پوهنتون څخه فارغ شوی یم، او زما زدکړې د خوړو او کرنې په برخه کې وې، د خواړو په علومو کې مې تخصص درلود – یعنی شیان لکه تولیدونکو ته ورځي ترڅو پوه شي چې خواړه څنګه چمتو کیږي، اجزاو او د خوړو کیفیت څه ډول دی. مګر ما په دې برخه کې هیڅ کاري تجربه نه درلوده ترڅو په لبنان کې د ښه امتیاز سره مناسب کار پیدا کړم. پرځای یې، ما په یوه کلیسا کې رضاکارانه کار وکړ او کډوالو ته مې د خوړو په ویشلو کې مرسته وکړه.

**نیدال:** زه لا دمخه په لبنان کې وم او هلته مې کار کړی، حتی د سوریې د جګړې له پیل څخه مخکې، او زه لا د مخه د هغه هیواد او د کار بازار سره اشنا وم. زما لپاره د کار موندل اسانه ول ، ځکه چې ما د مخه د لبنان د کار بازار کې تجربه درلوده.

## په سوریه او لبنان کې د یوې ښځې په توګه ژوند څه ډول و او ایا په بریتانیا کې د یوې میرمنې په توګه ژوند کوم توپیر درلود؟

**غزاله:** په شخصي توګه زه یوازې زما د خپلې تجربې په اړه خبرې کول غواړم، زه احساس نه کوم چې د بریتانیا په پرتله په سوریه او لبنان کې د یوې میرمنې په توګه زما احساس کې کوم توپیر شتون ولري. زه تل پخپله یم او ما هیڅکله دا احساس نه دی کړی چې په کوم هیواد کې چې زه اوسیدلی یم له ما سره بل ډول چلند شوی وی.

کله چې تاسو یو نوي هیواد او نوي کلتور ته ځئ، نو ترټولو لویه ننګونه د نوې ژبې زده کړه ده. زما لپاره دا ښه وه چې نوې ژبه زده کړم، یو څه چې ما فکر کاوه چې زه یې حتمی کولی شم.

**نیدال:** په داسې حال کې چې زما لپاره د ژبې زده کول خورا ستونزمن وو. د یوې ژبې نه پوهیدل یقینا خورا ستونزمن کار دی.

### ستاسو د ماشومانو لپاره (د لبنان پریښودل او بریتانیا ته راتلل) دا تجربه څنګه وه؟

**غزاله:** زمونږ لونو په لبنان کې ډیرې ملګري درلودلی او له همدې امله دوی په دې خفه شول چې خپل ملګري پریږدي او نامعلوم هیواد ته ځی. دوی نه پوهیدل چې دوی به په بریتانیا کې له څه سره مخ شي. خو کله چې موږ دلته راغلو، نجونو د ټولنې د ملاتړ ډلې ولیدی، زمونږ نوی کوریې ولید او ویې لیدل چې دوی هر یو جلا کوټه لري – دې کار دوی ته ښه احساس ورکړ او دوی دلته په راتلو خوشحاله شوی. په لبنان کې مونږ ټول په یوه کوټه کې اوسیدلو او انجونو هیڅکله خپله کوټه نه درلوده. دوی ولیدل چې په بریتانیا کې د ژوند کیفیت د هغه څه په پرتله خورا ښه و چې مونږ پخوا درلود. دلته دوی ته د لوبو لپاره د لوبو توکی ورکړل شول او دې شیانو له دوی سره مرسته وکړه چې دلته د ژوند کولو مفکوره ومني او د خوښۍ احساس وکړي. زه د دوی د ښوونځي په لومړۍ ورځ ډیر اندیښمنه وم، کله چې ما دوی ښوونځي ته راوستل زه اندیښمنه وم چې دوی به څنګه له نورو سره اړیکه ونیسي، دوی هیڅوک نه پیژني او دوی لا تر اوسه هیڅ ملګري نلري. خو کله چې مونږ هغوی بیرته له ښوونځي نه راوستلو، زما زړه ډیر تیز تپیده ځکه زه نه پوهیدم چې دوی په کوم حالت کې وی. خو کله چې دوی ما د ښوونځي له دروازې بهر ولیدل، دوی ماته را منډه کړه او راته یې وویل چې دوی څومره خوشحاله دی! څنګه ښوونځي دوی نورو خلکو ته معرفي کړل او هرچا یې څنګه هرکلی وکړ. دوی په ښوونځي کې ډیر خوشحاله دي او همدارنګه په بریتانیا کې له ژوند کولو خوشحاله دی.

او په عموم کې، نجونې په ښوونځي کې خورا ښې دی او پرمختګ ته دوام ورکوي. دوی ډیر ژر شیان زده کړل! کله چې نجونې د خپل پلار سره بهر ځي، دوی د هغه لپاره ترجمانی کوي. او کله چې زه د انګلیسي ستونزمن ټکي واورم، دوی زما سره د هغه په تشریح کولو کې مرسته کوي.

RESET Training and Support

**په راتلونکي کې څه کول غواړې؟**

**غزاله:** زما لومړیتوب د ژبې زده کول دي. او زه فکر کوم کله چې تاسو ژبه په مهارت سره زده کړئ نو دا ستاسو لپاره ډیرې دروازې خلاصوي او د هغه څه ترلاسه کول اسانه کوي چې تاسو یې غواړئ. له هغه وخته چې ما د خوړو او کرنې په برخه کې زده کړې کړې، زه غواړم وګورم چې ایا زما لپاره په دې برخه کې کوم اړونده کاري فرصتونه شتون لري چې زما مهارتونه ښه ګټه پورته شي. زه د خلکو د یوې ډلې سره په داوطلبانه توګه کار کوم چیرې چې موږ د باغونو ساتنه کوو، کښت کوو او د محوطی جوړونی کارونه کوو لکه د ونو شکلونو په مختلف ډول پرې کول. زه غواړم په داوطلبانه توګه دی هیواد ته خدمت وکړم  هغه هیواد چې زه او زما د کورنۍ لپاره یې هرڅه چمتو کړي، نو اوس چې زه دلته یم، غواړم د چاپیریال په ساتنه کې مرسته وکړم. زه واقعیا د داوطلبۍ څخه خوند اخلم، زه د خوښی احساس کوم چې پدې لاره کې خدمت وکړم. دا هغه څه دي چې ما تل خوند ترې اخیستی دی، حتی کله چې زه په لبنان کې رضاکاره وم.
کله چې زه ونې کښینوم، زه د خوښۍ احساس کوم او فکر کوم چې یوه ورځ به نور خلک له دې ونو او دې چاپیریال څخه خوند واخلي. همدارنګه، دا زما لپاره یوه لاره ده چې نورو خلکو سره معرفي شم، نوي مهارتونه زده کړم، ملګرتیا وکړم او د خپلې ژبې د تدریس مهارتونه هم تمرین کړم.

**نیدال:** ما اوس د ژبې په زده کړه تمرکز کړی ترڅو د خلکو سره په اسانۍ سره اړیکه ونیسم. ما مخکې د خیاط په توګه کار کړی او غواړم چې یو ځل بیا دا کار وکړم. که یوه ورځ امکان ولري او زه د خپل د ګنډلو دوکان پرانیزم.

**غزاله:** که څه شی ځیری شوی وي نو هغه یې سموي او ګنډي یې. زه غواړم یوه ټوکه وکړم او ووایم چې ما د هغې د ګنډلو مهارتونو له امله له هغه سره واده وکړ!

**په بریتانیا کې د ژمي لومړۍ تجربه مو څنګه وه؟**

**غزاله:** ما واقعیا تمه درلوده چې دلته به هوا خورا خرابه او یخه وي. په لبنان کې، هوا ډیره سړه وی، هوا تل بارانی وی او حتی داسې ورځې هم شتون لري چې باران پکی نه دریږی. نو په بریتانیا کې ژمی زما له تصور څخه ښه و. په لبنان کې هم کرسمس لمانځل کیږي، خو دلته دا ورځ په شانداره توګه لمانځل کیږي. موږ لندن ته لاړو چې د کرسمس څراغونه او سینګارونه وګورو او د کرسمس کارتونو ورکولو ښکلي دود سره مینه لرم. کله چې نجونې له ښوونځي څخه کور ته راغلې، دوی موږ ته د کرسمس کارتونه وښودل چې دوی د خپلو ملګرو څخه ترلاسه کړي وو. او کله چې موږ خپل کالج ته لاړو، زموږ استادانو هم موږ ته د کرسمس کارتونه راکړل. دا خورا ښکلی وه او موږ هیڅکله د دې په څیر هیڅ تجربه نه وه کړې. د نجونو په ښوونځي کې، د کرسمس جشن و، چې هلته تمثیلی ټوټه هم وه موږ هلته ولاړو همدا رنګه زما لوڼو دښوونځی په سندرو کی برخه واخیستله او ډیری خوښی شوی.

**تیری شپږ میاشتی مو څنګه وی چی تاسو د ټولنیز ملاتړ ګروپ لخوا پکی استقبال شوییاست؟**

**غزاله:** پداسي حال کې چې موږ په لبنان کې وو موږ یوه ناسته درلوده چیرې چې مونږ ته بریتانیا کی د ژوندکولو سره یی آشنا کولو او څه تمی باید لرو. او موږ د ټولنې د ملاتړ ډلې یوه ویډیو هم ولیده چې خپل ځان معرفي کوي او هر یو وایي چې دوی څوک دي. دی زمونږ سره مرسته وکړه چې احساس وکړو چې موږ دوی له لیدلو د مخه پیژنو. او کله چې موږ بریتانیا ته ورسیدو او په هوایی ډګر کې د ډلې غړو سره ولیدل، موږ دوی ته د دوی په نومونو غږ کول او فکر مو وکړ چې موږ د مخه یو بل سره پیژنو. دې ډلې له موږ سره په ټولنه کې په ادغام کې ډیره مرسته کړې، دوی له موږ سره د ژوند په ډیرو برخو کې په پرمختګ کولو کې مرسته کړې ده. لکه د ډاکټر سره ملاقات لپاره وخت نیول، په سوپر مارکیټونو کې لوی پیرود یا خرید کول، په کالج کې زموږ په شمولیت او په ښوونځي کې د انجونو په شمولیت او داسې نور شیان په هره مرحله کې زموږ سره مرسته کړې.
کله چې موږ لومړی بریتانیا ته ورسیدو او ولیدل چې دوی څنګه زموږ لپاره کور چمتو کړی و، موږ تقریبا هیر کړل چې موږ تازه دې هیواد ته راغلي یو ځکه چې موږ کولی شو خپل نوی ژوند په هغه کور کې وګورو چې دوی مونږ لپاره جوړ کړی و.
دا هغه څه دي چې موږ د ډلې له هر غړي څخه مننډوی کوی.

**تاسو نورو کورنیو ته چې په بریتانیا کې میشته کیږی څه مشوره ورکوئ؟**

**غزاله:** زه به هر هغه کورنۍ ته ووایم چې تازه برتانیا ته راغلی، ډیر فکر مه کوئ، هره شیبه ژوند وکړئ. که تاسو د یو څه په اړه اندیښنه احساس کوئ، نو هڅه وکړئ چې په آرامۍ سره شیانو ته ورسیږئ. پوه شئ چې ښه نوي شیان ستاسو په تمه دي، ستاسو د ماشومانو لپاره ښه فرصتونه او ښه تعلیم ستاسی انتظار کوی.